پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۴/۰۶/۱۸

# دردونه او یادونه

## او ورسره څو خبرې

«دردونه او یادونه» د شاه ولي آرین د لنډو کیسو ټولګه ده چې ډېره تازه(۲۰۱۴ـ ۱۳۹۳) له چاپه راوتلې ده. په ټولګه کې لومړې د «دسرېزې په توګه څو خبرې» د لیکوال لنډ یاد داشت راغلی دی، بیا د «تقریظ او ارزونه» تر سرلیک لاندې دټولګې او د کتاب د لیکوال په باب،
د پوهنمل حاجي محمد نوزادي خبرې راوړل شوې دي.
د آرین د لنډو کیسو دا ټولګه په داسې وخت کې له چاپه راوتلې ده چې لیکوال یې د مهاجرت په دایره کې، په پردي چاپېریال کې لکه بل هر مهاجر افغان له رنګارنګ ستونزو سره لاس ګریوان دی، خو له دغو ټولو ستونزو او نا خوالو سره سره لیکوال وتوانیده چې د خپل فکراو قلم ثمر په خپل مصرف او خپل همت چاپ کړي او په مینې سره یې د لوستونکو مخکې د یوې هنري ډالۍ په ډول کېږدي.




زه نه غواړم چې د شاه ولي آرین د لنډو کیسو د چاپ په خاطر دلته د پښتو لنډې کیسې تأریخچه له راحت زاخیلي نه تر نن پورې په مفصل ډول وڅېړم، خو دومره ویل اړین بولم چې راحت په واوره کې «څېر» ویست، د معاصرو داستاني ادبیاتو لار یې په نښه کړه، نورو لارویانو ته یې ډېوه بله کړه او نورو بیا د ده پل پسې واخست. دا «څېر» پسې پراخ شو، د لمر په ځلیدو سره واورې پسې ویلې شوې، په «څېر» کې ختې پیدا شوې او بیا پسرلنیو بارانونو شین طبیعت وزېږاوه، پښتولنډه کیسه نوره هم شنه اوښیرازه شوه، خو داسې وخت هم راغی چې زموږ په شنه بڼ باندې د اور باران را وورید، د اور تاو زموږ هرڅه وسوځول، ټپي یې کړل اوله هغې ډلې لنډه کیسه هم.
دلنډو کیسو خاوندانو اودلنډو کیسو لوستونکو په رنو ورته کتل چې زموږ لنډې کیسې هم لکه د ادب او هنر نور صنفونه ټپي شوې، د جګړې لوګو او وینویې سترګې او دماغ ورزهرجن کړ او...،
خو د داستاني ادبیاتو لیکوالو، لارویانو او بنوالو په هر حالت کې لنډه کیسه یوازې پرې نه ښوده، په هر ډول چې وه، دوی ورسره مل و او هر کله به چې یې لړ سا اخیسته، نو نازوله به یې او نوره سا به یې هم ورکوله.
په دې لاره کې یې ناخوالې ګاللې، خو لنډه کیسه به له لاسه نیولې وه، ترڅویې چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

جګړې په اورونو او دودونو کې نوې بڼه ورکړه او نوې سا یې ورکړه. نوې کیسې ولیکل شوې او نوې داستاني ټولګې د چاپ ډګر ته راووتې، چې یوه هم د شاه ولي آرین «دردونه او یادونه» نومې ټولګه ده.

د اوسني وخت د لنډو کیسو لیکوال باید د اوسنۍ ټولنې او په هغې کې دشته ښکلاوو، رنځونو او واقعیتونو ریښتینی انځورګر وي. د اوسنۍ زماني کیسه لیکونکی باید د خپلو تجربو په رڼا کې اوسني واقعیتونه په هنرمندانه ډول عکاسي کړي، د خپلو تجربو مالګه، مرچ او مساله ورباندې ودوړوي اوبیا یې د نوي زمانې نوي خاوند، یعنې نوي نسل ځوان لوستونکي ته له نویو طرحو، نویو وړاندیزونو او د حل لاربښودلو له کونجي سره یو ځای په مخ کې ورته کیږدي.

د اوسني وخت د کیسه لیکوالو کیسې باید په کومو تورو او په کومو جملو سره، کومه منځپانګه او کوم پیغام او کوم فکر سره د لوستونکو دسترګو ننداریې ته وړاندې شي.او دا دلیکوال دنده ده چې دا کار څه ډول تر سره کړي.دا دی ښاغلي شاه ولي آرین په خپلو لنډو کیسو کې توانیدلی دی چې په مهارت سره دا دنده تر سره کړي او د دې ټولګې په خپرولو سره لوستونکي ته خپل پیغام په هنرمندانه ډول ولیږدوي.

ده په دې ټولګه(دردونه او یادونه) کې د اوس له پاره د غورچاڼ په ډول لس کیسې غوره کړي دي. ټول هغه شیان چې په دې کیسو کې راغلي دي، هغه لیکوال په خپل چاپیریال کې لیدلي دي ،احساس کړي یې دي، بیا یې په خپل هنري احساس او ذوق رنګولي دي، وروسته له هغه یې لوستونکو ته وړاندې کړې دي.

په افغانستان کې د بدلونونو او ورسره د رامنځ ته شوو نا خوالو په اثر ټول خلک متأثره شوي دي او له هغې ډلې نه قلموال هم. د قلموالو له پاره د مرګ ژوبلې او بې ځایه کیدو تر څنګه یو ستره ستونزه د دوی د یاد داشتونو، څیړنیزو کارونو، شعرونو، لیکل شوو لنډوکیسو او... له منځه تلل، غلا کیدل، سوځیدل، په عمدي یا غیر عمدي ډول له منځه وړل او پو پنا کیدل دي.

د شاه ولي آرین د ژوند پاڼې په لوستلو سره هر څوک پوهیږي چې ده به د شپیتمې لسیزه په دویمه نیمایي کې په کابل کې ډیر څه لیکلي او خپاره کړي وي، خو په وطن کې د رنګارنګ حالاتو د راتګ په وجه به یې ځینې برخې له لاسه وتلي وي. اوس یې کوم څه چې په اختیار کې وو، د هغو له ډلې نه یې دا غور چاڼ برابر کړی دی. څوک چې آرین له نږدې پیژني هغه په دې پوهیږي چې دی په داسې سیاسي، ټولنیز، فرهنګي چاپیریال کې پاتې شوی دی چې هره شیبه یې د ده له پاره یوه سوژه وه. دی د کلي بچی دی او د ښار ژنی، لوړې زدکړې لري، په ادبیاتو، اداره او سیاست باندې ښه پوهیږي او له ټولو نه مهمه دا چې خپله ټولنه ښه پیژني او درکولای یې شي. او دا هر څه په دقیقه توګه د ده په همدې کیسو کې لیدل کیږي.

که د آرین کیسې په انتقادي سترګه ولوستل شي، پرته له شکه چې نیمګړتیاوې به لري، خو دی د کلي سوژې او د کلي کیسې، د کلي په ژبه په هنرمندانه ډول انځوروي. آرین په «برګه غوا» کې داسې پیام لیږدوی چې د ټول عمر له پاره ځان له نابللو میلمنو نه خلاصوي او د نابللو میلمنو ناوړه دود داسې رټي چې باید نور نو ټولنه او خلک ورنه خلاص شي.

دغه راز په «وال» نومې لنډه کیسه کې د اداري فساد جرړې په ماهرانه، خو په ساده ژبه داسې بیانوي چې هر لوستونکی ښه ورباندې پوهیږي. دغسې یې نورې کیسې هم د ټولنیزو دردونو او واقعیتونو د ښکاره کولو ښه هنداره ګڼلای شو.

د آرین د لنډو کیسو منځپانګه هماغه تکراري منځپانګه ده، خو ځانګړتیا یې دا ده چې کله، کله لوستونکو ته داسې پیغامونه په کې ایښودل شوي دي چې په هغو کې انساني مینه له ورایه ښکاري. له بیوزلي انسان سره خوا خوږي او د هغه له حقوقو نه دفاع، په ماهرانه ډول په کې انځور شوې ده، چې ښه مثال یې «عُشر» نومې لنډه کیسه ګڼلای شو.

ملک، ملا، ټوپکوال، زمیندار، حاکم، قومندان او... ظالم ښودل، دا کومه نوې خبره نه ده چې د آرین په کیسوکې لکه د نورو کیسه لیکوالو انځور شوي دي، خو دآرین کیسې نوې خبرې هم له ځانه سره لري. د ده په کیسو کې له طبیعت سره مینه، انسان او نورو ژوندیو موجوداتو ته ضرر نه رسول او داسې نور، چې غوره نمونه یې په «نه هیریدونکي یادونه» نومې لنډه کیسه کې تر سترګو کیدای شي.

د آرین د لنډوکیسو ټول کرکترونه له عیني ژوندانه نه خوښ شوي، عیني موجودیت لري او له هغو سره یې اړوند ټولنیزې ستونزې بیان کړې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا هم د ليکوال لنډه پېژندنه چې د کتاب په پشتۍ کې راوړل شوې ده:



دليکوال پېژندنه:

شاه ولي آرين دمحمد علي زوي د ۱۳۳۲ لمريز کال دکب په مياشت کې دکندز ولايت د خان آباد ولسوالی د اقتاش د جنت باغ په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانيستي دي. لومړنۍ زده کړې يې د اقتاش ښوونځي او دکابل په حبيبيه ليسه کې ترسره کړي او په ۱۳۵۲ لمريز کال د خان آباد دليسې د دولسم ټولګي د فراغت نه وروسته يې دکورينو ستونزو له امله په خپله خمکه په کره ييزو چارو بوخت شوی دی. په ۱۳۵۷ لمريز کال کې يې دښوونکي په توګه او په ۱۳۵۸ کال د خان آباد دليسې د مدير په توګه دنده لرله. د همدې کال د جدي په مياشت کې د کابل دده خدايداد په ليسه کې دښوونکي په دنده وګومارل شو. نوموړی د ۱۳۲۰ کال نه تر ۱۳۲۹ کال پورې په دولتي او ټولنيزو چارو کې د رياست تر کچې پورې دندې ترسره کړي دي. په دغه موده کې يې له ۱۳۲۵ کال نه تر ۱۳۲۸ کال پورې دکابل پوهنتون دادبياتو دشپې پوهنځي دپښتو څانګې نه دليسانس ديپلوم ترلاسه کړی دی.
نوموړی په ۱۳۷۲ لمريز کال په تاشکند کې دوو کلونو په موده دسياست او اداري په برخه کې ماستري په برياليتوب پای ته رسولې ده.
شاه ولي آرين له ۱۹۹۷ م کال راهيسې د ډنمارک په هېواد کې د مهاجر په توګه دپرديسي لا له هاندې شپې او ورځې تېروي. دی همدا رنګه په اروپا کې په ډېرو علمي، فرهنګي غونډو، سيمينارونو او مشاعروکې تر وسه ګډون کوي او د اړوندو موضوعګانو په هکله کله ناکله خپلې مقالې او شعرونه لولي. ډيرې مقالې، لنډې کيسې او شعرونه يې په مجلو، ويبپاڼو کې خپاره شوي دي.

جګړې زمونږ د ژوند پر هر اړخ باندې سيوری غوړولی دی. ليکوال دننه په وطن کې يا د باندې له وطن څخه، غواړي يو څه ولیکي، يوه ستونزه باندې خبرې وکړي، يوه غوټه پرانيزي ،حقيقت بيان کړي او ... خو زمونږ دغه ګډ وډ فکرونه، له جګړې رازيږيدلی حالت او پرتولنه او خلکو باندې پرته خپسه د دې سبب شوې چې کيسه ليکوال خپل لوستونکی سم نه پيژني او د هغو غوښتنې هم نه شي درکولای، چې دا خپله د کيسه ليکنې په کار کې لويه ستونزه ده. د دغو دلايلو پربنا موږ ليکوال ته نه شو ويلای چې دا وکړه دا مه کړه.
ښاغلي خپله آرين هم له ما سره په دې کې همغږی وي چې که دغه ټولګه د لنډو کيسو د اصولو په تله کې وتلل شي، په ټول کې به پوره نه وي؛ خو دا يو عيني واقعيت دی چې دا کيسې د آرين د طرز تفکر او احساس ښه ترجماني کولای شي.
اوس په عام ډول په پښتو داستاني ادبياتو کې او په ځانګړي ډول په پردي چاپيرال کې د کيسه ليکوالو ټولنيز موقعيت، خصوصاً رواني حالت بيخي بل ډول دی او هغه هيلې چې په خپله ټولنه او خپل چاپيريال کې له ليکوال څخه کيږي، په پردي چاپيريال کې نه شي ورنه کيدای. څکه چې د دوی امکانات، اړيکې، له ټولنې، پيښو او خلکو نه د دوی اخيستنه او بيا هغه د لنډې کيسې په چوکاټ کې ځايول، دا هر څه په افغانستان کې د ننه شرايطو سره مغايرت لري.
زه د اوس له پاره په همدې بسنه کوم چې ليکوال ته بايد مثبته لاربنوونه وشي، ښه مصلحت ورسره وشي، داسې څه ورته ونه ويل شي چې هغه دې د فرهنګ په خزان وهلي بڼ کې نور هم ژير کړي او ويې رژوي.
ښاغلي آرين ما هرکله هڅولی دی چې په لومړي ګام کې خپل تخليقي آثر راټول او چاپ ته وسپاري. دا دی له نيکه مرغه په لومړي ګام کې د ده د لنډو کيسو دا غور چاڼ(دردونه او يادونه) له چاپه راووت چې زه يې په پښتو داستاني ادب کې يوه ښه اضافه ګڼم.
زه په لومړي ګام کې ده ته بيا دپښتو ادب ټولو مينه والو ته د دې ارزښتمن اثر د چاپ مبارکي وايم، د لوستلو سپارښتنه يې کوم اوهيله لرم چې ښاغلی آرين قلم را واخلي، نوي کيسې تخليق کړي او د خپلو نورو تخليق کړو آثاروا وتحقيقي – سياسي مقالو چاپ باندې هم فکر وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ